**د افغانستان بانک**

**دغیر بانکی مالی مؤسساتو دڅارنی لوی آمریت**

# د صرافي او پولي خدمتونو د شرکتي جواز اخیستنې ژمن لیک (تعهدنامه) او لمړني شرایط

## الف:- دصرافي او پولي خدمتونو دشرکتي جواز غوښتونکي د مقرراتي شرايطو د پوره کولو برسېره دلاندي شرايطو په پوره کولو هم مکلف دي:

1. د صرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چې خپل تشکيلاتی جوړښت د جوازدهي له مديريت سره شريک کړي.
2. په کابل، مزارشريف، ننگرهار، کندهار،کندز او گرديز يعنی دزونونو په مراکزو کی دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چې دیرش میلیونه افغانی (3000000) کاری سرمایه ولري او دافغانستان په نورو ولاياتو کی کیدای شي چی دا سرمایه لس میلیونه (10000000) افغانۍ اوسي.
3. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی دشرکت اساسنامه ولري.
4. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی د پيسو وينځلو او تروريزم دتمويل سره دمبارزی لپاره پاليسي ولري.
5. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی دخپل کاروبار تجارتی دری کلن پلان ترتيب او شريک کړي.
6. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی دری میلیونه افغانۍ (3000000) دافغانستان بانک ته دتضمين په توگه تحويل کړي.
7. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی ديوی معتبری مرجع نه د سهمدارانو/ سهمدار دسر تضمين ارايه کړي کچېرې نشي کولای چی دسر تضمين وړاندي کړي کولای شي چی دری ميليون افغانی اضافي د تضمين په مبلغ نورې هم اضافه کړي چی مجموعی مبلغ دتضمين به لس (10000000) میلیونه افغانۍ شي.
8. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی ددری کلنی دوری لپاره د جواز داسنادو دمراحلو دطی کولو يا تمديد دفيس په توگه دوه سوه زره (200000) افغانۍ تحويل کړي.
9. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی دجواز اخيستنی په وخت يا د جواز اخيستو نه وروسته دمعلوماتو دثبت لپاره کمپيوتری پروگرام يا (Soft ware) ولري.
10. دصرافي او پوليخدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی دافغانستان د مالی راپورونو دشننی مرکز (فنتراکا) ته دراپور ورکونی برسيره خپل دوره يي مالي راپورونه او همدارنگه نور ټول راپورونه دغوښتنی په وخت د افغانستان بانک ته وړاندي کړي.

11. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چې دهیواد نـه دباندي حوالـو داجرا په صورت کی د بهرنی هیواد او مقابل طرف (دحوالی اخیستونکی) پـه اړه دافغانستان بانک ته لازم معلومات ورکړي.

## ب:- د پولي خدمتونو اوصرافي نماینده ګۍ (څانګه) دجواز د ورکړی شرایط!

دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی دمقرراتي شرایطو برسیره لـږ تـر لـږه دنماینده ګی دایجاد لپاره لاندي شرایط هم پوره کړي.

1. دصرافي او پولي خدمتونو شرکتي جواز غوښتونکي مکلف دي چی دنماینده ګی داخیستنی په وخت دافغانستان بانک ته په ولایاتو او یاهم مرکزي دفتر کي درخواست یـا غوښتن لیـک وړاندي کړي.
2. دصرافي او پـولي خـدمتونو شرکتـي جـواز غوښـتونکي( مرکزیـت) مکلـف دي چـی د هـری نماینده ګی فیس چی سل زره افغانۍ 100000 کیږی تحویل کړي.
3. دصرافي او پولي خدمتونو شرکت کولای شي چی په ټولو ولایتونو کې مرکزیت او یا یوه څانګه پرانیزی.
4. دصرافي او پولي خدمتونو شرکت کولای شي چې په ولسوالیو کې څانګې پرانیزي.

### دشرکت په امتیاز د نماینده ګي داخیستلو شرایط!

1. په هغه صورت کی چی نماینده ګی دشرکت پـه امتیـاز پرانسـتل کیـږی د دواړو خـواوو(مرکزی دفتر او نماینده ګۍ(جانبینو) ) ترمنځ په کتبی توګه تفاهم نامه الزامی ده.
2. دنماینده ګی مسؤلین مکلف دي چې دجـواز اخسـیتنی پـه وخـت یـا د جـواز اخیسـتو څخـه وروسته دخپلو معاملاتو او معلوماتو دثبت لپاره جلا کمپیوتری سیستم یا (Software) ولري.
3. دنماینده ګی مسؤلین مکلف دي چې لږ تر لږه پنځـه میلیونـه 5000000 افغـانۍ کـاری سرمایـه ولري.
4. دصرافي او پولي خدمتونو شرکت کـولای شي چـې پـه ټولـو ولایتونـو( بغیـر دهغـه ولایـت چـې مرکزیت یې اوسی) د نماینده ګیو امتیاز ور کړي.
5. دصرافي او پولي خدمتونو هغه شرکتونه چې د جـواز مرکزیـت یـې پـه ولایتونـو کـې وي، نسـئ کولای چې په کابل کې امتیازي نمایند ه ګی ورکړي.

6. دصرافي او پولي خدمتونو هغه شرکتونه چې د جواز مرکزیت یې په ولایتونو کې وي کولای شي چي د پنځه میلیونه افغانیو کاري سرمایې په ښودلو او یو میلیون افغانۍ تضمین په تحویلولو سره په کابل کې نماینده گی جوړه کړی.
7. دصرافي او پولي خدمتونو شرکت نه شي کولای چې په یوه ناحیه کې امتیازي او خپله نماینده گی پرانیزی.
8. صرافي او پولي خدمتونو شرکت کولای شي چې دری ۳ انفرادي صرافیو او یا پولي خدمتونو ته د نماینده امتیاز ور کړي.

## ت:- تعهدنامه یا ژمن لیک

## دشرایطو دمنلو او جواز اخیستنې په اړه د درخواست کونکي تعهد

پدي توگه اقرار کوم/کوو چی پدي فورم کی درج دصرافي او پولي خدمتونو دجواز دصدور شرایط تصدیقوم یا منم او دجواز اړین مراحل طی کولو ته ژمن یم/ یو په هغه صورت کی چی زه/ مونږ دپورته شرایطو پوره کولو باندي ونه توانیږو او یا یی په طی مراحل په پروسه کی کوم تخلف ولیدل شی حاضر یم /یو چی زما/ زمونږ په وړاندي دهیواد دنافذه قوانینو او مقرراتو مطابق اصولی او قانونی کړنه ترسره شي.

**امضا/ گوته** **تاریخ**